



www.aghalibrary.com
CamScanner

www.aghalibrary.com

**کتاب پېژندنه**

**د کتاب نوم:** شهیده معلمه

**لیکوال:** نذیر کوتوال

**منځپانګه:** ناول

**د کتاب چاپېنه:** منځنی کچه، ساده کاغذ، (۴۸) مخونه

**چاپوار:** لومړی چاپ

**ختیځ خپرندویه ټولنه- جلالکوټ**

**۰۷۷۱۱۰۴۲۴۳ - ۰۷۸۷۴۱۲۰۵۰**

**khatiz.press@gmail.com**

**د کتاب نوم:** شهیده معلمه

ناول

**لیکوال:** نذیر کوتوال

**ډیزاین:** عبدالهادي اثر ۰۷۸۸۰۰۳۷۰۳

**چاپچاري:** ختیځ خپرندویه ټولنه

**چاپشمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپکال:** ۱۴۰۰ ل/ 2021م

د چاپ حقوق خوندي دي!

**د ترلاسه کولو پتې:**

**ننګرهار: لومړی پته ختیځ کتابپلورنځی، اسحاق زی مارکیټ لاندینی پوړ**

**دویمه پته: درونټه، ننګرهار پوهنتون ته مخامخ**

**اړیکه: ۰۷۷۲۷۱۹۰۳۰ - ۰۷۸۴۰۰۱۲۳۷**

www.aghalibrary.com

CamScanner

www.aghalibrary.com

CamScanner

# خپلې خبرې

مشران وايي چې داسې پانه نشته چې باد ښورولي وي زموږ په گران هيواد کې داسې کورنۍ نشته چې د دې روانو جگړو په نتیجه کې يې زيان نه وي ليدلى ښوونکې حسنا هم د دې هيواد يوه داسې پيغله وه چې د وخت ناخوالو ترې اول پلار بيا ورونه او وريسې د دوى د كور سرپرست ماما واخيسته او اخير يې د ښوونکې حسنا ژوند ته هم د پای ټکی کېښود، نورې خبرې نه اوږدوم په پای کې د خپلو ټولو ملگرو څخه په ځانگړې توگه له ډاکټر صبغت الله کوټوال، مسلم دردمند، ډاکټر فهيم الله مشال، زيارالله مصلح، نورزاده خوانمل، نوشاد کوټوال او لياقت افغان څخه مننه کوم چې شعر او ليکوالۍ ته يې هڅولی يم او هڅوي مې.

په درنښت

**نذير كوټوال**

**ننگرهار - کوټ**

www.aghalibrary.com

CamScanner

●

ځلوبښت کاله کيږي چې وطن د جنګ په لمبو کې سوزي، خويندې بې وروره، او مور بې او لادونو او بې سرپرسته شوه. ډېرې کورنۍ مو د وير په ټغر کيناستې. بلها شهيدان او ټپيان مو ور کړل. د درد خبره خو لا داده چې اکثريت کورنۍ مو د مهاجرت په اور لمبه شوې.

دې جګړې زموږ د هيوادوالو مادي، اقتصادي او فرهنګي ارزښتونه له خاورو سره خاورې کړل خو يو څه چې زموږ لپاره د وياړ دي، هغه د دې هيواد د فرهنګي او کلتوري ارزښتونو ساتل دي، او دا ارزښتونه بيا شاعران او ليکوالان ښه پاللی شي، چې په داسې سختو شرايطو کې بيا هم کوښښ کوي چې خلکو ته ددې ويرجنې ټولنې انځور مخې ته کېږدي او دا جنګ ځپلې ټوله ټکي په ټکي ور معرفي کړي.

په دغه ساه ډوبي ماحول کې کوټوال ځکه د ستايلو وړ دی چې خپله يو سرتيری دی کفن يې هر وخت له سينې تاو کړی وي، او دا خاوره له پرديپالو ژغوري، له مصروفيتونو سره سره د زړه درد د همدې کتاب په ليکلو را برسېره کوي، دا ناول ډېره ساده ښه

www.aghalibrary.com

CamScanner

لري ليکنه باید همداسې ساده او عام فهمه وي یعنې داسې وي
چې د ټولنې ټول وګړي ترې یو څه واخیستلی شي او په لیکنه
باید د ټولنې حقیقي انځور په لیکلي بڼه ښودل شوی وي، ښه
لیکنه هغه ده چې یو پیغام لوستونکو ته ورکړي او هغوی ته د
مینې، الفت، صمیمیت او صله رحمۍ درس ورکړي او په یو ډول
د ټولنې بدبختي ور په ګوته کړي.
د کوټوال صیب دا اثر ډېر ساده دی او یو لوی حقیقت پکې
پروت دی او یو ښه احساس ورکوونکی دی شخصاً د افغاني
ټولنې ناوړه بدبختي درپېژني چې یو د دغه ناوړه بدبختیو څخه د
مکتبونو چاودنې دي چې دا انسانیت نه دی ظلم، زیاتی او یو
لوی وحشت دی الله جل جلاله دې د دې برهم وطن لپاره سوله
مرهم وګرځوي په اخیر کې خبرې نه اوږدوم کوټوال صیب ته د
دې کتاب مبارکي وایم، قلم یې تاند او همداسې روان اوسه.

**په درنښت**

**مسلم دردمند**

**ننګرهار کوټ**

www.aghalibrary.com

CamScanner

●

د ماین درنې چاودنې موږ ټول متوجه کړو، قومندان په وارخطایۍ را ورسېد، په نیمواکه لهجه یې وویل:

هلکانو ځانونه رسوئ، د سرک غاړې د انجونو په لیسه کې بم والوت، هله هله ځانونه رسوئ.

موږ ټول رینجر ته په بیړه پورته شو، په لس دقیقو کې مو ځانونه د پېښې ځای ته ورسول د لیسې څلور خوا مو محاصره کړه، یوه غمجنه فضا جوړه وه، د لېسې داخل ته ننوتو لومړی مې سترګې د ښوونځي په ملازم ولګېدې په وینو ککړ پروت و، را پورته مې کړ خو هغه د یو عالم ارمانونو سره زموږ د هیواد د زرګونو شهیدانو سره یو ځای شوی وو او نور د هغوی په قطار کې راغي، لږ اخو ورغلم ډیرې نجونې پرتې

وې څو تنه مړې وې، زما په ګومان د دویم یا دریېم ټولګي زده کوونکې به وې سخت وذردېدم مړې خو هسې هم مړې وې، ټپیانو پسې ورغلم یوه یوه مې راپورته کړه او په امبولانس کې مې واچوله، لږ چې اخوا لاړم یوه وړه جلۍ مې را پورته کړه زګیروي یې کول بیښې راته نا اشنا ښکاره شوه لکه چیرته مې چې لېدلې وي امبولانس ته مې ور پورته کړه لږ اخوا یوه بله جلۍ پرته وه څنګ ته یې ماته چوکۍ او یو دستکول ښکارېده ډېره ښکلې جلۍ وه جګ قد، سپینه څېره او غټې سترګې، اوږده بانه، جګه نرۍ پوزه یې وه، الله جل جلاله په خپل قدرت جوړه کړې وه عمر به یې اتلس یا شل کاله وه، ټپونه یې دومره ژور نه وه خو وینه یې ډېره ضایع کړې وه بې هوشه پرته وه، امبولانس ته مې ورپورته کړه نور نو ټپیان او مړي نه وه په پرتو وینو مو خاورې واچولې، د پیښې له ځایه ساه نیولي روان شو، را یاد شو چې د هغې دستکول را واخلم، دستکول مې را واخیست او رینجر ته پورته شوم، له یوه شېبه مزل وروسته خپل ټولي ته ورسېدو تقریباً دولس نیمې بجې به وې په فکر کې ډوب شوم چې هغه ماشومه به لا څوک وه، په ذهن مې زور راوست خو بریالی نه شوم، اخر دا ماشومه به ما چېرته لیدلې وه، زه لا په فکرونو کې وم چې عبدالله ملګري مې را غږ کړ:

- علي

- غږ مې ور نکړ، عبدالله ډېر شوخ وو، ما ویل بیا یې لکه چې ریشخند ته زړه شوی د عبدالله دا عادت وه چې هره ورځ به یې یو ملګری تنګوه، خو ما سره یې کار نه درلوده زه یې په دې شرط نه پـه عـذابولم چې ما به ورسره د نورو ملګرو په تنګولو کې مرسته کوله بیا یـې را غږ کړ.

- واهلکه ویده خو نه یې؟

- ورته مې وویل څه وایې؟

- راغی؟

- راته یې وویل هلکه د ابو ذر وربېره مړه ده چې جنازې تـه یـې ورشو، ابو ذر زموږ یو ملګری وو، موږ سره یـې د سیمې پـه امنیت کـې ډېـره مرسته کوله، وریرې به یې موږ ته د سرک د چک پوائنټ په وخت کې اوبه او شربت راوړه، اوس مې ذهن تـه راغلـه چـې پـه ښـوونځي کـې تیپي شوې ماشومه د ابو ذر وربېره وه د سختو ټپونو له امله یې اوس پـه روغتون کې ساه ورکړې وه.

د عبدالله سره یو ځای یـې جنـازې تـه روان شـوم د کـوچنۍ ماشـومې جنازه مو وکړه، د مازدیګر د لمانځه وخت وه، د یوه لښتي پـه غـاړه د اودس لپاره کیناستو عبدالله ته مې وویل:

- دا کس چې چاودنه یې کړې که په لاس راغی، څه به ورسره کوم؟

- عبدالله را وکتل مسکی شو، زندان ته به یې لېږې نو څه به ورسره کوې؟

- نه نه ځان به پرې زندان ته لېږم.

- حیران یې را ولیدل دا څه په ګډوډو سر یې؟

- ومې ویل ته خو پوهېږې چې تر څو عسکر کوم مجرم ژوندی نیولی شي باید ویې نه وژني؟

- ویلې هو کنه! دا خو د عسکر مسؤلیت دی.

- خو ما به دا واژه که ژوندی مې نیولی هم وه او بیا خو ته پوهېږې چې دا کار مې کړی وای ځای مې زندان وه.

- عبدالله راته وویل ستا زنداني کېدو ته ضرورت نشته کوښښ به وکړو چې مجرم پیدا کړو او همغه زندان ته ولېږو.

- ومې ویل که یې ولېږو څه پرې.

- وه یې خندل زندان هم د دې لپاره جوړ شوی چې مجرم بیا جرم ته زړه ښه نه کړي.

- ومې ویل دا منم خو دوه ورځې وروسته به بیا خوشې شي او بیا به سرکونو، مکتبونو او پولچکونو ته بمونه ږدي دا رشوت خواره تاته معلوم نه دي، عبدالله پوه شو چې بحث ورسره کومه ګټه نه لري.

CamScanner

- وې ویل الله جل جلاله دې هغه څه وکړي چې زموږ پکې خیر وي، راځه چې ځو.

روان شو، ټولي ته په رسېدو د مازدیگر په لمانځه ودرېدو دواړو لمونځ وکړ. عبدالله لاړ چای یې راوړ، زه په فکرونو کې ډوب شوم دا خلک ولې داسې کوي؟

ولې زموږ په جوماتونو کې بمونه ږدي؟

ولې زموږ مکتبونه الوځوي؟

ولې په بازارونو کې بمونه الوځوي؟

ولې د لوبې په ځایونو کې بمونه الوځوي؟

ولې واړه ماشومان او انجونې په بمونو الوځوي؟

هی هی که دا ماین چای ایښی وي ډېر به خوشحاله وي چې څومره د مېړانې کار مې کړی؟

نر ځوان یم کوچنی ماشومانې مې مړې او ټپیانې کړې!

حیران یم چې دې خلکو نه غیرت چېرته تللی!

فکر نه کوم که پښتون، افغان یا مسلمان وي؟ .

ځکه افغانه، پښتنه او مسلمانه مور به کله داسې بچي وزیږوي چې ددې هیواد په زیان وي په جنګیو بریدونه خو کومه مېړانه هم نه ده.

زه فکر نه کوم چې دا به انسان وي؟

دا به د انسانانو په جامه کې ځناور وي؟

زموږ یو ملګری وو، هغه به ویل چې زه فکر نه کوم چې ځان مرګی بریدګر به انسان یا به حیوان وي، یا به کوم بل څه وي موږ به ورپورې خندل سهارنۍ زده کوونکې مې یو ځل بیا په ذهن کې وګرځېدې لکه خوب چې مې لیدلی وي، مړ ملازم مې سترګو ته ودرېد، بچي به یې په تمه وي چې پلار به مې راشي خو خبر نه دي چې پلار به یې بیا هیڅکله رانشي- هغه داسې ځای ته لاړ چې د راتګ امکان یې بلکل نشته په وینو ککړې ماشومانې مې یوه یوه په ذهن کې تاوېده عبدالله مې د فکرونو لړۍ وشلوله د شین چای نه ډک ترموز او دوه ګیلاسونو سره رانوت ګیلاسونه یې ډک کړل یو یې ماته را وړاندې کړ ویې ویل:

- ډېر خفه معلومېږې؟

- ما ویل هو! والله سهارنۍ چاودنې بیخي خفه کړی یم.

- ویې خندل عسکر یې وروره داسې چې هرې پېښې ته زړه خورې په دې درې کلن قرارداد کې به زوړ شې.

- ومې ویل زه حیران یم چې په انجونو برید دوی ته کومه میړانه ښکاري، مېړانه نه ده ملګریه هغوی چې څه غواړي هغه زموږ بیسوادي ده او دا بریدونه که موږ یې مخه ونه نیسو، بېسواده کوي

مو، عبدالله زیاته کړه د یوې جینۍ په روزلو سره یوه کورنۍ روزل کېږي دا انجونې د سبا ورځې میندې دي او چې میندې باسواده شوې وګنه چې وطن جوړ دی ځکه هغوی به خپل بچي باسواده کړي نو زموږ دښمنان کله دا غواړي که موږ ډاکټران شو د پردیو د احتیاج نه به خلاص شو که موږ انجینران شو په پردیو به اوبه بندې شي او داسې نورې ډېرې خبرې دي ما هیڅ نه ویل او چوپ ناست وم عبدالله ګیلاسونه واخیستل او روان شو ساعت ته مې وکتل ماښام ته لږ وخت پاتې وو، له خونې بهر ووتم په قدم وهلو مې پیل وکړ، لږ وګرځېدم را وګرځېدم د ماښام د لمانځه لپاره مې اودس تازه کړ راغلم د ماښام په لمانځه ودرېدم لمونځ مې ادا کړ د اوږدې دعا وروسته مې جای نماز ټول کړ، سهارنی دستکول چې د چاودنې له ځایه مې راوړی وو، را واخیسته خلاص مې کړ پرته له تقسیم اوقات او کتابچې څخه بل څه پکې نه وو، تقسیم اوقات ته مې وکتل د ښوونکې وه او هو دا خو ښوونکې ده د اتم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې د ریاضي مضمون ورپسې رسېدلی وه کتابچه او تقسیم اوقات مې ترې را وویستل د دستکول کوچني جیبونه مې ولټول پنځلس سوه افغانۍ او یو کریم پکې وه بیرته مې پکې کېښودل کتابچه مې خلاصه کړه په لومړۍ صفحه یې د انګلیسي- حروفو په

ښکلي خط لیکلي وه Hasana Afghan (حسنا افغان) بله صفحه مې واړوله لیکلي یې وه (زما د ژوند داستان) پوه شوم په لوستلو مې پیل وکړ پکې لیکل شوي وه:

زموږ شپږ کسیزه کورنی ډېره ښکلې وه، مور مې، پلار مې، له ما مشر ورور مې چې یوسف نومېده، زه او له ما دوه غبرگوني خور او ورور چې خور مې (سلگۍ) او ورور مې (سلمان) نومېده موږ د ننگرهار ولایت په یوه داسې ولسوالۍ کې وو چې ډېره ښکلې وه زموږ کور په داسې ځای کې وه چې چار چاپېره تـرې پټـي ول، کور تـه مخامخ مو یـوه غونډۍ وه چې ببخ کې یې تور سرک تیر شوی وه موږ او کاکا مو په یو کور کې اوسېدو، کاکا مې دهقاني کوله او پلار مې دریور وو، سهار به له کور ووت او ماښام به راته ژوند مو ډیر ښکلی وه، د کور کارونه به مې مور او کاني په شریکه کول زه، یوسف او د کاکا دوه لورگاني مې حیاء او غوټۍ موږ به سهار مکتب او ماسپښین به مدرسې تـه تلو ورځې شپې تیرېدې زه د لومړي ټولگي څخه دوهم او له دوهم څخه دریېم ته بریالۍ شوم حیا او غوټۍ هم دریېم ټولگي ته بریالۍ شوې وې خو په ټکي هم خبرې نه وې خو د دوی بر عکس زه اول نمره او ښه لایقه وم یوسف هم لایقه و، خو زما په څبر اول نمره نه و، موږ به سهار ښوونځي ته تللو پلار به مې موږ ته د خوراک لپاره پیسې راکولې

چې ځان ته پرې څه واخلو چې دا کار زما د کاکا نه خوښېده ځکه هغه ډېر کنجوس وه خو زما پلار بیا په ماشومانو ډېر مهربانه وه او په دې خاطر زما د کاکا په لورگانو هم گران وه.

یوه ورځ چې مور له ښوونځي څخه راغلو په کور کې بد حال جوړ وه حیرانه شوم چې زموږ په کور کې څه پېښه شوې ده د خلکو گڼه گونه کې ور ننوتم، مخکې ورغلم له حیرانۍ مې خوله وازه پاتې شوه هغه څه مې ولیدل چې په خوب کې مې هم نه و لیدلي، د خپل پلار په جسد مې سترگې ولگېدې د زغم وړ راته نه وه، پورته شوم په ځمکه ولویدم یوې ښځې پورته کړم د مور په خوا کې یې کېنولم د ویر او ماتم ورځ تېره شوه مازدیگر یې زما پلار خاورو ته وسپاره د پلار د دفن وروسته خبره شوم چې پلار مې چا د موټر لپاره وژلی او موټر یې تړې وړی لنډه دا چې زموږ د بد بختۍ د پیل همدا ورځ وه، کاکا مې په پلار پسې ښه سخات او خیرات وکړ او خلکو ته یې ځان وښوده چې ما مې د ورور پسې د مال نه ځان خلاص کړ خو یوه میاشت وروسته یې زموږ سره چال چلند بلکل بدل شو هر ماښام به چې کور ته راغی زما د پلار د مړینې د خیرات خبرې به یې کولې چې د هغې د خیرات پور درباندې پاتې دی اخیر یې یوه ورځ زما مور ته وویل چې ستا د سرو غاړه کۍ او غوږ والۍ راوړه چې خرڅ یې کړم او د مېړه د خیرات .

پيسې دې پرې خلاصې کړم که څه هم مور مې په دې راضي نه وه خو خپل ټول سره زر يې زما کاکا ته ورکړل چې خرڅ يې کړه او پور پرې خلاص کړه، دا الله جل جلاله ته مالومه وه چې زما په کاکا ريښتيا قرض وو او که هسې يې مور ته ويل؟ خو زما د مور د سرو زرو خرڅولو هم زما د کاکا وضعيت بدل نه کړ او ورځ په ورځ يې مور سره اړيکې خرابېدې کانې چې مې زما د مور سره ډير ښه چلند کاوه اوس پوره بدله شوې وه د کاکا لور ګانو مې ما او يوسف ته له سره د انسانانو په نظر نه کتل او مور ته به يې ويل چې خيرات خورو زموږ پلار يې راوړي او تاسو يې خورئ سوالګرو وشرمېږئ ځان ته ډوډی پيداکړئ حيا او غوټی به مور ته خبرې کولې او کاني به مې ورته خندل.

لنډه دا چې په کور کې مور د حيواناتو په څير ژوند درلود، د څو مياشتو سخت ژوند نه وروسته مې کاکا مور ته خپله پرېکړه داسې واوروله هغه مو کوټه ده پکې به ناست اوسی او نشئ کولای نور زموږ د کور خواړه وخورئ اوس مې نو مور ته د پلار د غم سر بېره د بچو د نفقې غم هم ورپه سر شو خلکو ته به يې تيکري او جامې جوړول او مور ته به يې پرې خوراکي توکي اخيستل خو هغه دومره پيسې نه وې چې زموږ ضرورتونه دې پرې رفع شي.

زه او یوسف اوس څلورم ټولګي ته بریالي شوي وو او سلمان او سلګۍ مو هم په لومړي ټولګي کې شامل کړي وه، د حامد کرزي بابا د حکومت دوره وه ښوونځیو ته به قلمونه او کتابچې ښې پریمانه راتلې او یا به الله جل جلاله زموږ غربت ته کتل هره میاشت به یې کتابچې او قلمونه را کول ښوونکو هم راسره ډېره مرسته کوله مور به مې هم تشویقولو هره ورځ چې به ښوونځي ته تللو ویل به یې چې تاسو ډېر لایقه یاست، ښه درسونه زده کوئ، حال دا چې زما مور نا لوستې او کلیواله ښځه وه خو په دې پوهېده چې زما تشویق زما بچي یو ځای ته رسولی شي سهار به لور سره ښوونځي ته تللو او ماسپښین به راتللو خپل کوچنی ورور سلمان او خپلې کوچنۍ خور سلګۍ سره مو هم په درسونو کې مرسته کوله هر ماښام به د لاټین رڼا ته د کورنۍ دندې لیکلو ته ناست وو خو زیات وخت به موږ کره تیاره وه مور به مې ډېر لاټین لګولو ته نه پرېښودو ویل به یې چې تیل به خلاص شي بیا به یې په څه شي اخلو نو بیا به مو کورنۍ دندې سهار لیکلې د ژمي په موسم کې به یخنۍ سخت زورولو څکه کوټه کې به تیاره وه چې موږ کورنۍ دنده لیکلی وای او بهر به یخنۍ ته ناسته سخته وه سلمان او سلګۍ به زیاتره وخت ویل چې زموږ یخني کېږي چې په دې وجه به تېرې هره ورځ کورنۍ دنده لیکل پاتې وو، او مکتب کې به یې وهل

خوږل چې کومه ورځ به خوږ شو نو بیا به ماسپښین له مدرسې پاتې کیدل او کورنۍ دنده به یې لیکله خو مور مې نه غوښتل چې مور دې له مدرسې څخه پاتې شو د ښوونکې حسنا کیسه مې تر دې ځایه ولوسته سخت یې خواشینی کړم، کتابچه مې بنده کړه پاڅېدم ساعت ته مې وکتل د خبرونو وخت وو، په موبایل کې مې راډیو ونیوله خبرونه مې واورېدل ټول خبرونه داسې و، چې زما خفګان یې نور هم زیات کړ له خونې را ووتم بهر هوا ډیره یخه وه، بیرته اطاق ته ننوتم د ماسخوتن په لمانځه ودرېدم لمونځ مې ادا کړ الله جل جلاله ته مې لاسونه لپه کړل- یا ربه! نور زمونږ په هیواد کې د امن تغر خپور کړې نور مونږ له دغه غمونو، بدبختیو څخه وساته، یا ربه! له نن ورځې وروسته داسې پېښنه مه را وله چې مونږ پرې خفه شو په خپلې دعا مې آمین وکړ او جاینماز مې ټول کړ، ډیر زیات ستړی وم په خپل ځای کې اوږد وغځېدم عبدالله ته مې ور غږ کړ-

- وا هلکه بیګا ته زما پر ځای پهره وکړه
- عبدالله راغی راته یې وویل ولې هلکه
- ورته ومې ویل تبه لرم
- عبدالله ته خدای ورکړه
- هلکه په دې مکتب کې خو به دې کومه جلی... نور غلی شو.

- ومې ویل کومه جلۍ یانې څه؟

- یانې کومې جلۍ سره خو به دې اړیکه نه لرله د دې لپاره چې زموږ وریندار شي؟

- ومې ویل یاره تر اوسه دې وروړ دا ښوونځی لیدلی هم نه وه، نن اوله ورځ وه چې زما دې ښوونځي ته پام شو په دې وخت کې عبدالله ته بهر کوم هلک غږ وکړ، په دروازه چې واته ویې ویل هلکه بیغمه شه زه ستا پر ځای پهره کوم، زما هم ډېره یخني کېده کمپله مې په سر را کش کړه تر سهاره په ځان نه وم پوه شوی د موبایل د ساعت زنګ د سهار لمانځه ته را ویښ کړم د سهار د لمانځه څخه وروسته ووتم طعام خانې ته لاړم چای مې وڅښه، له طعام خانې څخه را ووتم د کور سره مې اړیکه ونیوه موبایل مې کوچني وروړ اوکې کړ، د کور احوال مې ترې واخیست د مور پوښتنه مې ترې وکړه بهر چرته وتلې وه د خویندو پوښتنه مې وکړه مکتب ته تللې وې موبایل مې قطع کړ د خویندو د مکتب د تګ خبرې راته د تیرې ورځې د مکتب چاودنه را یاده کړه د کوچنیو ماشومانو مړینه د ملازم مرګ او د ښوونکې حسنا کیسې خو بیخي بل ډول کړی وم اطاق ته ننوتم یو ځل بیا مې د ښوونکې حسنا کتابچه را واخیسته په لوستلو مې پیل وکړ:

- مور چې به مې د ټیکریو په جوړولو کومې پیسې ګټلې ډیرې کمې

وې نور څه پرې نه کېدل مور مې غوره ګڼله چې په خپلو ګټلیو شویو پیسو وریجې واخلي هره ورځ به مو پخولې یوه ورځ چې مور له مکتب څخه راغلو سلمان ډوډۍ غوښتنه وکړه مور مې ورته وویل زویه ډوډۍ خو نشته وریجې مو پخ کړي دي درته به یې واچوم خو سلمان په ژړا شروع وکړه دا نه خورم ماته ډوډۍ خو ډوډۍ چرته وه تر مازدیګره یې وژړل اخیر مازدیګر مې مور دې ته راضي کړ چې وریجې وخوري سلمان هم ملامت نه وه هره ورځ وریجې هغه هم جوش شوې، غوړي، پیاز، رومیان او نور شیان موږ کره نه ول مور به مې وریجې په اوبو کې واچولې او اور به یې ورپسې بل کړ دا هغه وخت وه چې زه له څلورم ټولګي څخه پنځم ټولګي ته بریالۍ شوې وم او یوسف هم پنځم ټولګي ته بریالی شوی وه سر معلم ټول شاګردان د ښوونځي په انګړ کې راغوند کړل وینا یې شروع کړه وه یې ویل چې راتلونکې شنبه باید ټولې زده کوونکې تورې جامې او سپین ټیکري ولري کنه ښوونځي ته به د راتلو اجازه نه ورکول کېږي، ملازم به په دروازه کې درېږي او څوک چې په بدل لباس کې مکتب ته داخلېږي له دروازې به یې شړي د سر ښوونکي دې خبرې سخته خفه کړم له ډېرو فکرونو او سوچونو سره د ښوونځي له انګړه د صنف په لور روانه شوم، لومړی ساعت د سر ښوونکي خبرو تمام کړی وه دویم ساعت مو ریاضي و،

ښوونکی راغی څو مثالونه یې حل کړه بیا یې یوه یوه زده کوونکې تختې ته پورته کړه خو زما بلکل فکر نه وه، زه د خپلو جامو په فکر کې وم ښوونکي چې زه ولیدم چې تختې ته نه ګورم، پورته یې کړم، تختې ته یې پورته کړلم، پوښتنه یې رانه وکړله، ومې لیکله خو په حل کولو یې ونه توانېدم د ریاضي استادان خو ټول هسې هم غوصه ناک وي خو زموږ استاد بیا بل رقم غوصه لرله داسې څپېړه یې راکړه چې په سر یې راته درد کړ ښوونکي راته څو نورې بدې خبرې هم وکړې دوه سواله کورنۍ دنده یې راکړه او ووت سخته خپلو ټولګیوالو ته خجالته شوم ځکه د ټولګي اول نمره زده کوونکې چې یو سوال حل نه کړي ډېر د شرم خبره ده، له هماغه ورځې مې ریاضې ته ملا وتړله چې اوس یې هم ښوونکې یم درېیم ساعت د پښتو مضمون وه د پښتو مضمون اسانه و، ټولې زده کوونکې به ورته خوشحاله وې ښوونکي پر ما غږ وکړ، حسنا درس شروع کړه! درس مې ولوست، ښوونکي پکې ښه تشریح ورکړه، ښوونکی لا ناست وه چې د تفریح زنګ ووهل شو، د ښوونکي له وتو سره سم ټولې زده کوونکې په منډه ووتې زه یواځې په ټولګي کې پاتې شوم په فکر کې شوم زه به اوس تورې جامې په څه اخلم زما مور سره دومره پیسې نشته هغه خو په خپلو ګټلو پیسو دومره څه اخیستلی شي چې موږ پە‌دې ژوندي

وساتي نو جامې به راته په څه واخلي په ميز مې سر کېښود ښه مې وژړل زړه مې غوښتل چې دومره په زوره زوره وژاړم چې ټول د ښوونځي ښوونکي او زده کوونکي راته ودرېږي او زما له حال څخه خبر شي، خو خپلې پښتو اجازه رانکړه لا مې په ميز سر ايښی وه او ژړل مې چې عاليه او عاقله چې دواړه خويندې او زما د ټولګی ملګرې وې را ننوتې ويل يې خير شه حسنا ولې ژاړې هيڅ مې ونه ويل عاقله غوصه شوه که مور ته ونه وايې نورې به تاسره په ټولګی نه کينو ورته مې وويل چې سر ښوونکي د تورو جامو وويل او زما مور سره پيسې نشته چې مور ته پرې جامې واخلي عاقلې راته وويل سر ښوونکی به وايي کنه په چا يې مني بله اونۍ نه والله که يې څوک بله مياشت هم وکړي دا هسې لګيا دی عاليې راته وويل اوښکې دې پاکې کړه که نورې صنفيانې راغلې بيا به در پورې خاندي.

لنډه دا چې ننۍ ورځ را باندې په ډېر خفګان تيره شوه کور ته لاړو د تير په څير مې مور موږ ته سترګې په لاره وه، سلام مې ورته وکړ، مور مې خوشحاله شوه چې موږ روغ کور ته راغلو يو ځل بيا مې مور جوش کړې وريجې زموږ مخې ته کېښودې زه او يوسف خو پوهېدو چې نور څه نشته خو سلمان کله منله هر وخت به يې ويل چې د وريجو په خوړلو مې زړه را جګېږي د وريجو د خوړلو پر مهال مې مور ته ياده

کړه چې له مور ځخه مکتب کې تورې جامې غواړي د مور څهرې مې تغیر وکړ، رنګ یې وتښتید، پوه شوم چې زما په خبره خواشینې شوه خو زما مور سختیو کلکه کړې وه ویې ویل لورې چې الله جل جلاله ډوډۍ درکوي جامې به هم درکړي سلمان وویل مورې ډوډۍ کومه ده مور خو هره ورځ همدا جوش شوې وریجې خورو، مور مې ورته وویل زویه الله جل جلاله تاسې ژوندي ساتي هغه که په ډوډۍ وي او که په وریجو، الله جل جلاله د رزق وعده کړې او خپل مخلوقات ژوندي ساتي تر شنبې لا ډېر وخت دی، خدای به یوه لاره پیداکړي تاسو اوس لمونځ وکړئ او سبق ته لاړ شئ چې ناوخته کېږي مور لاړو جومات ته مازدیگر چې کور ته راغلو مور مې په جاینماز ناسته وه او ژړل یې خواته ورغلم ورسره کیناستم ورته مې وویل:

مورې ولې ژاړې؟

- مور مې ترخه مُسکا وکړه هسې لورې خپله مور مې را یاده شوه

- ما ویل څنګه به وي؟

- دا خو کاله مې نه ده لیدلې

- ومې ویل رښتیا مورې زما نیا او ماما خو زما د پلار تر مړینې وروسته زموږ هیڅ پوښتنه ونکړه؟

- لورې ماما دې غوښتل چې د پلار د مرګ څخه وروسته دې موږ له

ځان سره پیښور ته یوسي خو کاکا دې وویل چې زه د څه لپاره یم، چې زما بچي څه خوري دوی به یې هم خوري او که زما بچي نهار وي دوی به هم نهار وي، دا خلک به څه وايي چې دا دوه وريرونه او کونډه ورېندار نشي ساتلی هغوی هم ستا د کاکا په خبرو باور وکړ، هغه غریب خو په پیښور کې لوی شوی په دومره کیسو خبرو نه دی، هغه بیرته پیښور ته لاړ او مور یې ستا کاکا ته پرېښودو، د مور له خنګه پاڅېدم خپله کورنۍ دنده مې ولیکله د ماښام تیاره په خورېدو وه چې مور مې یو ځل بیا له ځان سره را ټول کړو او جوش شوې وریجې یې را باندې وخوړې او خپلو ځایونو کې ویده شو سهار مې مور لمانځه ته پورته کړو نن ورځ په نه زړه د خپلو ورونو او خور سره د مکتب په لور روانه شوم یوسف نور لوی شوی وه په دې پوهېده چې زموږ ژوند ورځ تر بلې خرابېږي د ښوونځي په لاره یې راته وویل حسنا زړه مې غواړي چې ښوونځی پرېږدم ورته مې وویل ولې؟ ویل یې دا خو ډېره بده ده چې سلمان او سلګۍ هره ورځ جوش شوې وریجې وخوري زه ته او مور خو په دې پوهېږو چې نور څه نشته هغه خو ماشومان دي ومې ویل ښه ته خو به ښوونځی پرېږدې خو څه به وکړې؟ چا سره به وګورم که چیرې داسې کار راته پیداکړي چې زما د کولو وي یاني زما د وسې کار وي ومې ویل وروره په ماشومانو څوک کار نه کوي خپل

ښوونځي ته دوام ورکړه په وچو ويالو به خدای اوبه راولي چې لږ لوی شوې بيا به ګورو نور نو مور ښوونځي ته ورسېدو زه او سلګۍ د انجونو، يوسف او سلمان د هلکانو ښوونځي ته ننوت، زه چې څنګه په دروازه ننوتم عاليه او عاقله ولاړې وې ويې ويل حسنا زيری مې در باندې زما پلار ما او عاليه سره تا او سلګۍ ته هم جامې اخلي ومې ويل رښتيا هو پلار مې ويل چې تا او عاليه او حسنا زما لورګانې ياستۍ زياته يې کړه پلار مې درته اخلي او مور مې درته ګنډي سبا ځان سره د خپلو جامو ناپ راوړئ، د هغې ورځې خوښي نشم بيانولی د رخصتۍ زنګ ته په طمع وم چې اوس به کله کور ته ځم او په مور به دا زيری کوم بالاخره د ښوونځي د رخصتۍ زنګ ووهل شو په ډيرې خوښۍ کور ته لاړم په دروازې چې ورننوتم په مور مې سلام واچوه ورته مې وويل مورې تا بيګا ويل چې الله جل جلاله مهربانه دی د عاقلې او عاليه پلار ما او سلګۍ ته هم جامې اخلي او مور يې راته ګنډي راته يې وويل چې سبا د خيره له ځان سره ګنډلې جامې د ناپ له پاره راوړئ! مور مې خوشحاله شوه ګوره لورې ما تاسو ته پرون وويل چې په هر حال شکر وباسئ.

سبا سهار د خپلو جامو د غوټې سره يو ځای خوشحاله د مکتب په لور روانه شوم عاليه او عاقلې ته مې جامې ورکړې له ټولګي څخه بهر

مې عاقلې ته وویل کوچنی ورور مې هره ورځ ډوډۍ پسې ژاړي سبا چې د خیره ښوونځي ته راتللې زما ورور ته له ځان سره لږه ډوډۍ راوړه عالیې وویل که پلار ته مې ووایم چې اوړه درته واخلي څنګه به وي؟ ومې ویل نه که ستا پلار موږ ته وړه واخلي کاکا به مې خبر شي هغه د چا صدقه او خیرات موږ ته نه پرېږدي خلکو تـه وايـي چې زه ورته هر څه اخلم عاقلې وویل ځه ورک یـې کړه چې کاکـا دې خبر نشي پټه به ورته ډوډۍ د کتابونو په بکسه کې راوړم مازدیګر مې کـور کې کورنۍ دنده لیکله سلمان راسره په خوا کـې ناست وه ورتـه مـې وویل:

سلمانه وروره زه به سبا تاته د مکتب نه ډوډۍ راوړم

- سلمان په خوشحالۍ راوکتل راته یې ویل رښتیا وایې؟

- ورته مې وویل هو!

- راته یې وویل زه یې سلګۍ خور ته هم ورکوم

- ورته مې وویل دواړه به یې وخورئ، خو چپ شه د کاني مخ کې دې څه ونه وایې

- ویلې ولې بیا یې هغه موږ نه غواړي؟

- ورته مې وویل نه کاکا دې غوصه کېږي.

سبا سهار چې ښوونځي ته لاړم عالیه او عـاقلې راتـه ګـنډلې جـامې او

ډوډۍ راوړې وه، ټولګیوالو مې د جامو غوټه وڅېړله، یوې عاقلې ته ووېل دا دې ورته مور په څو روپۍ وګنډلې عالیه ورته ووېل ارزانه یې ورته ګنډلي، جینکو هم نور څه ونه ویل، الله جل جلاله دې عالیې او عاقلې ته خیر ورکړي زما په هر راز یې پرده اچوله چې کله د تفریح زنګ ووهل شو او ټولګیوالې مو بهر ووتې ډوډۍ یې زما په بکسه کې کېښودې، زړه سواندې مور یې ورته څلور ډوډۍ په غوړو کې پخ کړې وې نن ورځ د یو عالم خوشحالیو سره د خپلو او سلګۍ ګنډلو جامو او د سلمان ډوډۍ سره یو ځای د کور په لور روانه شوم کور ته چې ورسېدم سلمان لا له ښوونځي څخه نه و راغلی، مور ته مې خپلې او د سلګۍ جامې وښودلې چې یوسف او سلمان له مکتب څخه راغلل. سلمان را منډه کړه، خورې ماته دې ډوډۍ راوړې ده؟ ومې ویل هو وروره، په منډه مې له خپلې بکسې ورته ډوډۍ را وویستله، سلمان د ډوډۍ په لیدلو د خوشحالۍ نه ټوپونه ووهل ملامت نه وه مور دا ډیر وخت ډوډۍ نه وه خوړلې، همدا وریجې مو پخولې نو تاسې ووایئ چې کله یو ماشوم دومره صبر کوي مور مې چې د سلمان ډوډۍ ته خوشحالي ولیده ډیر یې وژړل ورځې شپې تیرېدې زه اوم ټولګي ته ورسېدم نور مې نو کاکا اجازه نه راکوله چې ښوونځي ته لاړه شم ډیرې زارۍ مې ورته وکړې خو کاکا مې نه پرېښودم سخت مې زړه

ډک وه په چیغو چیغو مې وژړل خو بې رحمه کاکا مې ویل چې ما ویل چې دا جلۍ به د مختب سره ورانېږي وګوره لکه چې کوم څوک یې خوښ کړی دی ما اول سر نه دا پېژندله، زما د ورېوکوالي نه دا جلۍ خوښه نه وه، کله چا په محبت پسې دومره ژړلي خدای خبر څخه خبره ده ولاکه رانه لاړه شي او نه به دې رانه ارمان پوره شي مختب مختب نشته دا هسې چکر لپاره ځي، نه یې پرېږدم چې پګړۍ کې راته ګلان کېږدي.

یوه اونۍ ښوونځي ته لاړه نشوم عالیه او عاقلې او نورو ټولګیوالو مې راپسې ځوابونه رالېږل خو ما ورته ویل چې کاکا مې اجازه نه راکوي یوه اونۍ را باندې لکه د یو کال تېره شوه ماسپښین په انګړ کې په فکر کې ولاړه وم چې –

- کاکا مې ولې له ښوونځي څخه منع کوي؟

اخیر ولې زما راتلونکی د خاورو سره خاورې کوي؟

په همدې فکرونو کې وم چې د دروازې د ځنځیر تک تک مې د فکرونو لړۍ وشلوله یوسف پاڅید دروازې ته ورغی د دروازې خلاصولو سره یې چیغې کړې چې حسنا ماما راغی ورمنډه مې کړه ماما ته مې کلکه غاړه ورکړه په چیغو چیغو مې وژړل ماما مې د کور د احوال پوښتنه وکړه ماته یې مخ را واړوه:

- خورزې سکول ته ځې او که نه؟

- نه ماما، دا یوه اونۍ کېږي چې کاکا مې ښوونځي ته د تګ اجازه نه راکوي، ډېره خفه یم وایم چې څه به کېږي تاسو چې زما د پلار له مړینې وروسته زموږ له کوره ووتۍ بیا مو زموږ پوښتنه هم ونه کړه، دا دی زما د پلار د مرګ څلور کاله کېږي.

- ماما مې وویل ګوره خورزې هر وخت به مې کاکا ته ستا رینګ کاوه، ستاسو تپوس به مې ترې کولو ویل به یې چې ټول ښه دي، د تیلیفون به مې چې ورته وویل چې خور ته مې ورکړه ویل به یې بهر یمه مور مې ورته د کاکا ټول ظلمونه وویل تر دې ورځې پورې چې زه مې کاکا له مکتب څخه منع کړې وم.

ماما مې وویل ټولو خبرو تپوس به ترې کوم پاڅید زما کاکا ته یې ورغږ کړ، کاکا مې له خپلې کوټې راووت، ماما مې پسې ورمنډه کړه خو مور مې، ما، حیا او غوټۍ یې مخه ونیوله - کاکا مې چې خجالت وه، هیڅ غبرګون یې ونښود، ماما مې سبا سهار، زه، سلمان او سلګۍ ښوونځي ته ولېږلو او یوسف یې ځان سره کور کې پاتې کړ. مکتب کې مې ملګرې عالیه او عاقله او صنفیانې ډیرې خوشحاله شوې زما په لیدو، ماسپښین چې کور ته راغلو په انګړ کې غټ دیوال جیګ کړی و ماما مې د خو تیه کلیوالو سره د دیوال په جوړولو بوخت وه،

اوس نو زموږ کور له کاکا څخه مې بیل شو، ماما مې د کور ټوله سودا راوړه او د څو شپو وروسته یې د پېښور لار ونیوه اوس نو ما کولای شو چې په ازاد ډول ښوونځي ته لاړه شم، ماما به مې هره میاشت زموږ کور ته راته او د اړتیا وړ توکي به یې اخیستل او بیا به بیرته تللو، څو میاشتې مو په خوښۍ تیرې کړې د جمعې په ورځ چې مکتب به مو رخصت وه سلمان د نورو ماشومانو سره د خشاکو (خسو) ټولولو پسې لاړ چې لږ ساعت تیر شو یو درز شو ټولو خلکو منډې کړې یو ماشوم نه مې پوښتنه وکړه چې څه پیښه وشوه ماشوم راته وویل چې وړاندې غونډۍ کې په ماشومانو بم والوت زړه مې بې ځایه شو چې ای الله خیر را پیښ کړې سلمان هم له نورو ماشومانو سره تللی، هغې خوا نه خلک را روان و ویل یې چې مخکینی بم چې د روس له وخت پاتې و په ماشومانو چاودېدلی سلمان هم پکې مړ و، مور مې چیغې کړې چې ای خدایه! په ډوډۍ چې موږ شو نو وا دې خیسته په انګړ کې بې هوشه شوه د کلي ښځې پرې را ټولې شوې اوبه یې پرې اچولې داسې ورځ وه لکه قیامت چې وي لکه لمر چې د مغرب څخه را ختلی وي، مازدیګر ناوخته چې ماما مې له پیښوره راغی سلمان یې خاورو ته وسپاره، یو ځل بیا موږ د ویر په تغر کیناستو د سلمان هغه ورځې مې را یادې شوې چې په ډوډۍ پسې به یې ژړل ډیرې سختې ورځې

پرې تیرې شوې اوس رانه خدای واخیست د سلمان مړینه لکه زموږ
په کور چې تندر له اسمانه را لویدلی وي، ټوله دنیا پیکه ښکاریده لکه
په وطن مو چې قحط راغلی وي لکه په شین فصل چې خزان راشي،
زړه مې خولې ته راغلی و لکه اکسیجن چې را بانـدې بند شوی وي،
زړه مې دومره تنگ و لکه په کوټه کې چې چا بندی کړې یم خو دا
هر څه یوائې په ما او زما په کورنۍ تیریدل ټوله ورځ به مې ژړل اخیر
مې له ځان سره پرېکړه وکړه چې ژړا ما او زما کورنۍ ته کومه گټه نه
رسوي او نه سلمان بیرته راگرځي. له ژړا مې لاس واخیست او خپل
ژوند او ښوونځي ته مې ادامه ورکړه، ماما مې هم خپل کور ته لاړ د
هغه بیچاره میرمن هم په نا علاجه مرض اخته شوه هغه په خپل
مشکل کې لاس او گریوان و موږ ته یې شا شوه د خپلې میرمنې په
علاج او درملنه بوخت وه څومره دنیا او سرمایه یې چې لرله ټوله یې د
میرمنې په علاج مصرف کړه، د ماما د ښځې ناروغۍ موږ هم له
مشکلاتو او مخکیني غربت سره مخ کړو دا نو هغه وخت وه چې زه او
یوسف لسم ټولگي کې وو، یوه ورځ یوسف راغی په خوا کې مې
کیناست او راته یې وویل:

- حسنا سر له سبا غواړم له ښوونځي سره خدای پاماني وکړم ځکه
زموږ ژوند ورځ تر بلې خرابیږي ته او سلگی ښوونځي ته ځئ او زه به

مزدورى ته مخه کړم

- ورته مې وويل ته به د څه شي مزدوري وکړې؟

- راته يې وويل يو ملګرى مې دى وايي چې دواړه به ګنديرى او يخې اوبه خرڅوو.

د ښوونکې حسنا کتابچه مې تر دې ځايه لوستې وه چې عبدالله را باندې غږ کړ راشه هلکه ډيره ښه شوله مې پخ کړې که خورې يې څه خوند به وکړي ته خو راشه، ورغلم د شولې له غوري تاوده تپونه پورته کيدل عبدالله پرې ليمو زور کړ، په ګرمې شولې يې د ليمو يخې اوبه توى شوې رښتيا هم عبدالله ډيره ښه شوله پخ کړې وه، د عبدالله سره مې ډوډۍ وخوړه ساعت ته مې کتل يوولس بجې وې زما د پهرې وخت و، تاور ته پورته شوم تر دوو بجو پورې مې پهره وکړه له تاور څخه را ښکته شوم ناوخته و ژر ژر مې اودس وکړ او لمونځ مې وکړ، يو ځل بيا مې د ښوونکې حسنا کتابچه را واخيسته په لوستلو مې يې پيل وکړ:

له دې ورځې وروسته ما او سلګۍ مکتب او يوسف مزدورى ته ملا وتړله مور به مې تيکري او لمنې جوړولې او يوسف به په ښار کې يخې اوبه او ګنديرى خرڅولې زموږ د کور ګوزاره پرې روانه وه يوسف به هره دوه اونۍ وروسته کور ته راتللو، د يوسف د راتګ ورځ به ماته د

ډیرې خوشحالی ورځ وه، ما به یې ورځې شمارلې یوه ورځ مې یوسف ته وویل:

- چې مکتب دې بیرته شروع کړی وی ښه به و.

- ویې ویل ولې ښه نه ده خو ته د کور وضعیت ګورې.

- ومې ویل خیر ګوزاره به کوو الله جل جلاله روزي رسان دی.

- نه نه حسنا بس دی چې سلمان د ډوډی په ارمان له دې دنیا لاړ په مخ یې اوښکې روانې شوې دواړو (ورور او خور) ښه وژړل.

- بیا یې وویل ستا دا ارمان به پوره کوم چې هر کله وي بیا یې مخ را واړوه، حسنا تر هغې وخته چې ته له مکتب نه یې فارغه شوې زه به مزدوري کوم، بیا به ته وظیفه واخلې باسواده ښځې هسې هم کمې دي وظیفې ورته پیداکېږي چې تا وظیفه واخیسته ته به کور چلوې او زه به مکتب شروع کړم.

- ومې ویل خدای دې زما او ستا دا هیله پوره کړي درې میاشتې رخصتی تیرې شوې زه له یووولسم ټولګي څخه دولسم ته بریالی شوم وروستی کال مې وه چې له مکتب په خیر فارغه شم خواري او کوشش مې یو په دوه کړی وه شپه او ورځ به مې درسونه ویل ښوونکو هم راسره مرسته او خواري کوله د شپې تر ناوخته مې مطالعه وکړه، خوب راغلی وه ویده شوې ومه، خوب مې ولید چې لاسونه او پښې

مې غوځې شوې وي ورخطا له خوبه پاځېدم خپلو لاسونو او پښو ته مې وکتل روغ او جوړ و، د خپل خوب په تعبیر پوه نشوم ډیره خفه شوم له خواشینۍ نه تر سهاره خوب رانغی تر سهاره همداسې ویښه وم د سهار له لمانځه وروسته مې خوب خپلې مور ته ووایه، مور مې ویل خیر دی لورې دا هسې وسوسې وي.

ښه مې په یاد دي ۱۳۹٤ کال د حمل میاشت وه زموږ کور ته مخامخ خړه غونډۍ تکه شنه وه زموږ د کور شا وخوا پټي ټول شنه وو، زه د بې شماره سوچونو او فکرونو سره مکتب ته روانه وم نه پوهېږم چې ولې خفه وم د ښوونځي په انګړ چې ور ننوتم د نارنج ګل خوشبو مې پوزه وتخنوله د ښاپیرۍ نغمې هغه سندره مې ذهن ته راغله چې وایي:

زار زار ګل د نارنج د ننګرهار...

ننګرهار همېشه بهار وي خو په پسرلي کې د جنت سره تشبیح کیدای شي یوه یوه ټولګیواله مې راتله اخیر ټولګی ډک شو د ښوونځي د تولیدو زنګ ووهل شو ښوونکی ټولګي ته راننوت دریېم ساعت وه د حدیث استاد راغی لا یې درس نه وه شروع کړی چې په دې وخت کې زموږ یو بل استاد را ننوت ویې ویل جلال اباد ښار کې ډېره درنه چاودنه شوې ډېر تلفات لري، زړه مې وښوید خپل بیګانی خوب را په

یاد شو ورخطا شوم له استاد څخه مې وپوښتل چاودنه د ښار په کوم ځای کې شوې استاد وویل په کابل بانک کې، یو څه داړه شوم ما ویل چې یوسف په کابل بانک کې څه کوي خو خبره نه وم چې دا تکه هم زموږ په کور را لویدلې، د ښوونځي د رخصتۍ زنګ ووهل شو زه کور ته لاړم کلی ارام وه خو زما په زړه کې لا هماغسې ډار وه مور ته مې د کابل بانک د پیښې په اړه وویل مور مې د الله جل جلاله دربار ته لاسونه لپه کړل یا ربه! ته مې په جولۍ کې خیر واچوې د مور دې خبرې مې زړه وغورځاوه لکه برق چې نیولې یم ولړزېدم د مور له خوا روانه شوم، زړه مې همدا راته ویل چې یوسف خپل ژوند د کابل بانک په پېښه کې له لاسه ورکړی په لاسونو او پښو کې مې ساه نه وه د خپل کور په انګړ کې ښکته پورته کېدم ساعت په ساعت به مې دروازې ته کتل ورځ را باندې تر مازدیګره همداسې تېره شوه مازدیګر ناوخته مې په سرک د امبولانس هارنډونه واورېدل د یوسف ټوټه ټوټه بدن یې په داسې حال کې را دننه کړ چې موږ هیڅ خبر هم نه وو، د ویر او غم نه ډکه فضا بیا جوړه شوه په ما بیا قیامت جوړ شو نور په ځان پوه نشوم یو وخت مې چې سترګې وغړولې په کوټه کې په چیرکټ پرته وم سیروم راته لګېدلی و شاوخوا مې سپینو چپنو والا نرسانې او ډاکټران ولاړ و، حیرانه شوم په ارامه غږ مې ووېل دا کوم

ځای دی او زه چیرته یم یو ډاکټر چې ځوان هلک وه، وچ کلک سپینه قواره او تنګې سترګې یې لرلې په مهربانه او خوږه لهجه یې راته وویل خور جانې ته په روغتون کې یې اوس به د خیره ښه شې او خپل کور ته به لاړه شې د یوسف د مرګ صحنه مې په ذهن کې راغله د لاس څخه مې د سیروم مزی کش کړ هماغه ډاکټر مې لاس ونیو ومې غوښتل چې پاڅېږم خو ډاکټر ونیوم تر څنګ یې بل ډاکټر وه هغه راته په لاس کې ستنه ووهله بیا نو نه یم پوه شوې داسې وخت کور ته لاړم چې د یوسف ټوټه بدن یې خاورو ته سپارلی وه د خپل ځوربدلي، ارمانجن او کړېدلي ورور په مړینه مې دومره وژړل چې د سترګو بانه مې توی شول، مشران وایي چې د غریب سړي دوه مرګه وي یو یې مرګ او بل یې غربت ما د یوسف په مړینه دومره اوښکې نه وې توی کړې لکه څومره مې چې د هغې د ژوند سختیو ته ژړلي وه څکه زما ورور خپل د ماشومتوب ژوند په موټرو پسې په منډو د ښار په ګرمو سرکونو تیر کړی وه، خو چې لږ را ځوان شو د دې ظالمانو د لاسه په بم والوت زما لوږې ځپلی ورور زما په سرکونو منډې وهونکی ورور زما هغه ورور چې ټول عمر یې په پردی کالی کې تیر کړ خو چې اوس یې خانته په اول وار کالي واخیستل هغه ترې پاتې شول دې ظالمانو زما د ورور ټول ارمانونه د هغې د نازک وجود سره د

خاورو لاندې کړل او مور یې یو خل بیا د ویر په تغر کېنولو ماما ته مې هم بله لاره نه وه پاتې خپله کډه یې را په سر کړه او زموږ سره په کور کې یې استوګنه غوره کړه خو د میرمنې ناروغی دې ته اړ کړ چې نیا مې او خپل دوه مشران بچي یې موږ سره په کور کې پرېښودل او خپله یې د ناروغې میرمنې او دوه کوچنیو بچیو سره بیرته پیښور ته لار ونیوه. دوه میاشتې ښوونځي ته لاړه نشوم مور به مې هره ورځ راته ویل چې ښوونځي ته لاړه شه خو ما کې هیڅ زور نه و پاتې، ازموینې په رانږدې کېدو وې مور مې مجبوره کړم چې ښوونځي ته لاړه شم فکر مې کولو چې محرومه به اوسم، خو د استادانو دې کور اباد وي پوره پوره هکاري یې راسره کړې وه دا زیری را باندې عاقلې په خپل کور کې کړی وه چې محرومه نه یم، سهار وختي په نه زړه مې خان اماده کړ او د ښوونځي په لور روانه شوم ښوونځي ته لږ ناوخته ورسېدم ټولې ټولګیوالې مې راغلې وې تر ټولو وروستی زه وم ټولګیوالې مې ستړي مشي ته را پورته شوې یوه یوه را غاړې وته او دومره په چیغو چیغو مې وژړل چې د لیسې ټولې زده کوونکې او استادان را ټول شول د پښتو استاد چې ډېر مهربانه استاد وه په غیږ کې ونیولم تسلي یې راکړه ویې ویل هر نفس د مرګ څکونکی دی ته دې د خپلې مور او کوچنی خور لپاره ژوند وکړه هڅه او کوښښ

وکړه درس دې ووایه د تل په څېر خپلو ټولګیوالو ته ځان ثابت کړه د نورو ټولګیوالو په څیر کوښښ وکړه چې لـه دولسم ټولګي څخه اول نمره فارغه شې او خپلې کورنۍ ته د نفقې ګټلو ذریعه شې ومې ویل استاد یوه جینۍ څه کولای شي استاد وویل یوه جینۍ چې څه کولای شي هغه سړی هم نشي کولای د ملالـۍ یـوې لنـډۍ د میونـد جګـړه وګټله، د زرغونې انا یوې خبرې ولس را ټول او اتفاق ته یې وهڅاوه د استاد خبرو خوند راکړ په هماغه ورځ کور تـه لاړم کتـابونو لپـاره مـې تقسیم اوقات جوړ کړ هره شپه به مې یو یو کتاب تـر ناوختـه مطالعـه کاوه چې په کوم درس به پوه نشوم سهار بـه مـې پـه ښـوونځي کـې د ښوونکي څخه پوښتنه کوله او زده کولو بـه مـې ټولـو اسـتادانو راسره د زړه له تله همکاري کوله څلور نیم میاشتې ازموینې مو په خیر پای تـه ورسېدې.

ورځې شپې تیرېدې، کلنۍ ازموینې ته مو لږ وخت پاتې و چې د ماما میرمن مې د ورپېښې ناروغۍ له امله وفات شوه زما د ماما میرمن د پکتیا ولایت څخه وه موږ ډېر کوشش وکړ چې پـه ننګرهـار کـې یـې خاورو ته وسپارو خو ورونو یې نه منله زما د ماما میرمن یـې د پکتیا ولایت په څمکنیو ولسوالۍ کې خاورو ته وسپارله، ماما مې د میرمن د فاتحې اخیستو نه وروسته پیښور ته د خپل کور او دوکان د پلورلو لپاره

لاړ ما خپلو ازموینو تـه پـوره امـاده ګـي ونیولـه او د ازموینـو د ورکولـو وروسته د تل په څېر اول نمره فارغـه شـوم، مامـا مـې د پیښـور ښخـه راغی خپل کور او دوکان یې پلورلی و د میرمن د ناروغی ټـول پورونـه یې خلاص کړي و، ویې ویل پکتیا ولایت ته کډه ورو که څه هم مـور او نیا مې نه منله خـو مـا مـې د ماما طرفـداري وکـړه او پکتیـا مـې د ننګرهار ښخه په دې غوره کړ چې غمونو خو دلته ښه وځپلو چې لږ مـو دې غمونو ته شا شي د ننګرهار ښخه مو د پکتیا په طرف حرکت وکـړ، جلال اباد ته چې ورسېدو یو ماشوم سره د اوبو بوتلونه په لاس کې وه زموږ د موټر ښیښې ته یې ونیول - واخلئ یخې اوبـه واخلـئ پـه لـس لس روپۍ بوتل مخکې سیټ کې یو نفر ورته غوصه شو نه یې اخلو په خبره نه پوهېږې، د ماشوم په لېدو مې یوسف را یاد شـو لـه ځـان سره مې وویل یوسف به هم خلکو داسې رټلی وي، هر مـوټر پسـې بـه یـې داسې منډې کـړې وي تـر کابلـه مـې وژړل د ورځـې یـوولس بجـې او دیرش دقیقې وې چې کابل ته ورسېدو د مامـا د یـوه ملګـري کـور تـه لاړو، د غرمې ډوډۍ مو وخوړه د ماسپښین لمونځ مو د ماما ملګري کره وکړ او بیا مو د پکتیا لاره ونیوله، له کابـل ښخـه ووتـو د لـوګر پـه تـور سرک جیګې جیګې د سپیدارو ونـې ولاړې وې چـې د لـوګر سرک تـه یې پوره ښکلا ورکړې وه موټر په چټکۍ روان وه د سرک ونـې ډاسـې

ښکارېدې لکه د موټر څخه چې تښتي د لارې د سفر او د لوګر د ښکلا څخه مې خوند اخیست سر.مې د موټر په سیټ ایښی وه خوب وړې وم د ماما غږ له خوب څخه را ویښه کړم حسنا پاڅېږه سترګې مې وموښلې د یوې ګڼې ګونې څخه په ډک ښار کې وم یوې لوحې ته مې وکتل پرې لیکل شوي و د ګردیز ښار د شملو ټاټوبي ته په خیر راغلئ پوه شوم چې د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ښار ته رسېدلی یو په ګردیز کې ورته زما د ماما اوښی (د ماما د ښځې ورور) سره د خپل موټر موږ ته په انتظار ولاړ وه زما ماما ته یې کلکه غېږه ورکړه له موږ سره یې هم ستړي مشي وکړل. خپل خورینه او خورزې یې هم په مخ ښکل کړې ټول موټر ته ور پورته شو د څمکنیو ولسوالی سرک پوخ وه کندې کپرې وه مزل مو کاوه یخ باد لګېده د ننګرهار ګرمي مې دې یخ باد هېره کړه د سرطان میاشت په پکتیا کې لکه د ننګرهار د حمل میاشت داسې ښکلې وه د الله جل جلا له کارونو ته حیرانه شوم چې یواځې دوه ولایتونه وړاندې هوا څومره ګرمه وه او دلته هوا څومره یخه ده د خپلې ګرانې خورې او د رازونو ملګرې عاقلې خبره را یاده شوه چې ویل به یې چې د خدای په کارونو او د بجلی په تارونو کې ګوتې مه وهه، د موټر ګرز مې د سرک کندې ته فکر کړ چې موټر ترې په سخته ووته ماما مې اوښي ته مخ ور واړوه د سرکونو کار ډېر

بې کفایته دی دا خو اوس جوړ شوی او دومره کندې کپرې شوی اوښې یې خپل ویښته له مخ څخه پورته کړل او ویې ویل نه لالا د سرکونو کار دومره خراب نه دی شوی دا بمونو خراب کړی، دا مسلمانان خو د جوړولو نه دی د نورو په لمسون یې ورانولو ته تکړه دي دا فکر ورسره نشته چې د دې زیان چاته رسېږي خدای دې مریض نه پیداکوي کنه چې په دې سرک یې ګردیز ته رسوې نو د دې کندو کپرو د لاسه به مړ شوی وي په دې وخت کې مې پرې نیا ورغبرګ کړ: وه ځویه دا لاره څومره اوږده شوه، بس تروري را ورسېدو په دې سرک ور کوزېږو د موټر په شیشه کې یې شاته وکتل موټر یې د سرک په منځ را تاو کړ، موټر د کلي په خام او کوچني کوڅو ور سرک حرکت پیل کړ څو دقیقې وروسته موټر د یوې غټې دروازې مخې ته ودرېد هارند یې وواهه د یو څه ځند وروسته دروازه خلاصه شوه موټر ورننوت ښکلی کور وو، مخ قبلې طرف ته یې څو غټې کوټې مخې ته یې سیمټي برنده چې لاندې یې ترې رنګا رنګ ګلان کرلي وو، د انګر د دروازې سره غټ د انګورو څپرکی او په خوا کې یې میوه دارو ونو کور ته لا ښکلا ورکړې وه، د موټر څخه ښکته شو مخې ته مو دوه ښایسته انجونې را ووتې لومړی زما نیا او مور سره او بیا یې ما سره کلکه ستړي مشي وکړه خپل خوریا او خورزې یې په غېږ کې ونیولې ښکل

یې کړلې، تر هغې وروسته یې مور راغله له مور، تولو سره یې روغبړ وکړ په دې کور کې زما د ماما خوابښې دوه ښینې او دوه اوښې اوسېدل نوره کورنۍ یې په سعودي عربستان کې اوسېده، د ماما ښینې مې راته وویل چې د پلار یې دوه ورونه او دوه ورینداریانې په سعودي کې مسافرې دي او دوی هم میاشت نیمه کې پسې ورځي یواځې تاسې ته انتظار و چې راشئ ورور مې ورته ویزې را لېږلې دي درې اونۍ وروسته مې د ماما د خسر کورنۍ د سعودي په لور روانه شوه او خپل کور یې سره د خپل موټر مور، ته پرېښودل موټر یې د دې لپاره پرېښود چې زما ماما بې روزگاره دی خپلو بچیو ته به پرې نفقه گټي خو زما موټر هیڅ نه خوښېده ځکه زما پلار د همدې موټر په وجه مړ شوی وه څو ځل مې ماما ته وویل چې د دې موټر چلولو څخه تیر شه کوم بل کار ځانته وگوره خو ماما مې نه منله تقریباً دوه میاشتې به مو په پکتیا کې شوې وې چې ماما مې د خمکنیو د لوړی په ساحه کې د طالبانو او امنیتي ځواکونو په جگړه کې په سر سخت ټپي شو د څه وخت وروسته یې ټپونه ښه شول خو اعصاب یې له لاسه ورکړل په ښه او بد نه پوهېده اوس نو د مور او خور غم سر بېره ماته د ماما بچي هم را په غاړه شول، فکر مې وکړ چې باید د دندې په لټه کې شم،یو چا راته وویل چې ستاسو د کور نږدې د جنکیو په لیسه کې

ښځینه ښوونکو ته ضرورت دی راتلونکې دوشنبه تـرې ازموینـه اخـلي که غواړې چـې امتحـان ورکـړې نـو ورشـه دوشـنبه د خپلـو اسنادو او تذکیرې سره یو ځای د لیسې په دروازه داخل شوم شپږ اوه تنه نورې جینکۍ هم ناستې وې ځان مې ورته معرفي کړ لس دقیقې مو نور هم انتظار وکړ د لیسې سر ښوونکی د درې تنه نورو ځوانـانو سره یـو ځـای را دننه شول خبرې یې پیل کړې زه نن ډیر خوشحاله یم چې زمـوږ پـه ولایت کې زموږ خپلې لورګانې لـه مـوږ سره پـه یـوه اداره کـې اوږه پـه اوږه کار کوي زه په تاسو ټولو باندې ویاړم او ستاسې لـه کورنیـو څخـه مننه کوم چې تاسـو تـه یـې د دې اجازه درکـړه چـې د دې وران ویجـاړ هیواد ته خدمت وکړي خپل لاسي ساعت ته یې وکتل ویل یې ناوخته کیږي په څنګ کې ولاړ کس ته یې اشاره وکړه دا بـه لـه تاسـو څخـه امتحـان واخـلي سر ښـوونکی لـه اداري څخـه ووتـه هماغـه کـس را نژدې شو ځان یې معرفي کړ زما نوم محمد دی زما ملګري یو شمشاد او بل منصور موږ پنځه تنه ښوونکو تـه ضرورت لـرو چـې د دې لیسـې لپاره یې ونیسو خو لومړیتوب هغه ښوونکو تـه ورکـوو چـې پـه ریـاضي وپوهیږي ما یې خبرو ته غوږ نیولی و هیڅ مې نـه ورکتـل چـې خبـرې یې ختمې شوې پر ما یې غږ وکړ:

- تذکیره او درې کلنې نمرې دې راکړه

- د دستکول خنځیر مې کش کړ تذکیره او درې کلنې نمرې مې ورکړې را وه یې کتل -

- مکتب دې په ننګرهار کې لوستی؟

- ومې ویل هو.

- نمرو ته یې وکتل و یې پوښتل څویم نمره فارغه شوې یې؟

- ومې ویل اول نمره فارغه شوې یم

- په خندا شو ویل سر ښوونکی یا مدیر خو به دې خپلوان نه وه

- ومې ویل نه

- په خندا یې وویل ټوکه مې کوله اول نمره ګي په خپلوۍ نه په لیاقت ده که هر څومره سر ښوونکی یا مدیر د چا خپل وي چې لیاقت ونلري اول نمره ګي نشي کولای موږ ته یې را وکتل ویې ویل که څنګه؟

- د تائید سر مو وخوځاوه

د خپل ملګري شمشاد څخه یې د سوالونو غوښتنه وکړه هغې د خپلې دوسیې څخه څو کاغذونه ورکړل د لسو پوښتنو څخه یواځې څلور یې د ریاضي وې چې ما په کې هیڅ مشکل نه درلود تر ټولو مخکې مې پرچه حل کړه او د لیسې څخه کور ته لاړم دوه اونۍ وروسته مو د ازموینې نتیجه راغله زه د څلورو نورو؛جنکیو سره بریالۍ شوې وم سر

ښوونکي راته سپارښتنه وکړه چې د اتم ټولګي ښخه تر دولسم ټولګي پورې ټولو صنفونو ته به د رياضي درس ورکوې ورسره مې ومنله او ډاډ مې ورکړ چې څومره انرژي په ما کې وي د دې هيواد پـه خدمت کـې يې مصرفوم سر ښوونکي حاضري را وړاندې کړه چې امضا يـې کـړه د قلم ښخه مې سر ليرې کړ د حاضرۍ لومړۍ خانه مې امضا کوله چې د يوسف خبره را په ياده شوه چې راتـه يـې ويلـې وه - حسنا چې تـه وظيفه واخلې بيا به ستا ارمان پوره کوم ته به پيسې ګټـې او زه بـه زده کړې کوم خو افسوس چې دا هيله يوسف له ځانه سره ګور ته يوړه لـه سترګو مې اوښکې روانې شوې سر ښوونکي را وکتل خـو څـه يـې ونـه ويل حاضري مـې د سر ښـوونکي پـه ميـز کېښوده او ادارې ښخـه را ووتم له همدې ورځې وروسته مې خپل ځان د خپلې مور، نيا، کوچنۍ خور(سلګۍ) د خپل رنځور ماما او د هغې د بچو مسؤل وګاڼه لـه ځـان سره مې وويل چې د خپل قلم په زور به د دوی هر ډول خدمت کوم د ښوونکې حسنا د ژوند داستان همدومره وه چې ومې لوست.

***

کتابچه مې بنده کړه په دې فکر کې شوم چې دا جينـۍ بـه اوس مـړه وي او که ژوندۍ عبدالله ته مـې ور غـږ کـړ، راغـی د ښـوونکې حسـنا ټوله کيسه مې ورته وکړه عبدالله راته وويل ما او تا بايد اوس څه وکړو

ومې ویل زه او ته باید معلومه کړو چې دا جینۍ مړه ده او که ژوندۍ، عبدالله راته وویل چې دا معلومات به موږ څنګه کوو او له چا څخه یې ترلاسه کړو ومې ویل نه پوهېږم عبدالله وویل فکر به پرې وکړو چې څنګه د دې جینۍ د ژوند او مرګ مالومات وکړو، سبا عبدالله وظیفې ته لاړه په ډنډ پټان کې عملیات وه یوه اونۍ وروسته چې عبدالله راغی راته یې وویل هلکه فکر مې وکړ چې د جینۍ د مرګ او ژوند پته څنګه ولګوو؟ ومې ویل څنګه؟ که فکر دې کړی وي ویل ما او تا باید د لیسې د سرښوونکي څخه به پوښتنه وکړو وبه وایې چې دا جینۍ تاسې څه پیژنۍ او څه اړیکه ورسره لرئ عبدالله راته وویل ته په ما پسې راځه نور زما کار دی عبدالله سره یو ځای د لیسې په لور روان شوم د لیسې دروازې ته ورسېدو هیڅ داسې فکر نه کېده چې دلته دې څو ورځې وړاندې کومه پېښه شوې وي د لیسې په دروازې کې د پخواني ملازم پر ځای یو بل ملازم ولاړ وه ورته مو وویل چې غواړو د لیسې د سر ښوونکي سره وګورو ملازم لاړه پنځه دقیقې وروسته بیرته راغی موږ یې له ځان سره د ښوونځي ادارې ته روان کړو ادارې ته چې ور دننه شو سلام مو وکړ یو سپین ږیری سړی د میز سره په پرتې چوکۍ ناست وه را پورته شو له موږ سره یې روغبړ وکړ ولاړ ملازم ته یې اشاره وکړه هغه لاړ سر ښوونکي په خپله سپینه

ږیره لاس تیر کړ ویې ویل ښه بچو تاسو غوښتل چې له ما سره وګورئ خو ما ونه پېژندئ عبدالله په چوکۍ کې یوه پښه په بله اړولې وه څنګل یې په میز کېښوده استاد محترم زما نوم عبدالله دی او دا ملګری مې علي نومېږي موږ دواړه په امنیتي څواکونو کې دنده لرو غواړو چې څو ورځې وړاندې دلته کومه چاودنه شوې د هغې د مړو او ټپیانو شمېره معلومه کړو څکه موږ یې د عاملینو په نیولو پسې ګرځو سر ښوونکی په چوکۍ کې را نیغ شو تر څو چې یې موږ ته څواب را کاوه ملازم د چای د پتنوس سره را ننوت ګیلاسونه یې ډک کړه او بیرته ژر ووت، ښوونکي عبدالله ته وکتل او ویې ویل ښه بچیه تا پوښتنه وکړه په هغې چاودنه کې زموږ ۲۳ تنه زده کوونکو ته مرګ ژوبله اوښتې وه چې ۱۰ تنه شهیدانې او ۱۳ تنه ټپیانې وې عبدالله په ویښتو کې ګوتې تېرې کړې ویې ویل ښه استاد محترم نور چاته خو پکې زیان نه وي اوښتی ښوونکو ملازمانو یا مدیر ته؟ ولې نه یو ملازم او یوه ښوونکې پکې هم شهیدان شوي وه، عبدالله د چای څخه ګوټ وکړ وې ویل کولای شې چې د شهید ملازم او شهیدې او ټپي شوې ښوونکې نومونه واخلې، هو ملازم اباسین نومېده چې په لیسه کې په کاکا مشهور وه او ټپي ښوونکې مریم نومیده چې اوس بیرته ښه شوې او شهېده ښوونکې حسنا نومېده عبدالله ته مې وکتل د

www.aghalibrary.com

CamScanner

څهرې څخه معلومېده چې د حسنا په مړېنه خفـه شـو د سر ښـوونکې څخه مې مننه وکړه د خدای پامانۍ لپاره مې لاس ور اوږد کړ د ادارې څخه را ووتم دومره خفه وم لکه د خپل کور کوم غړی چې مې د لاسه ورکړی وي د برنډې په زینو چې راښکته کېدم د ښوونکې حسنا کورنۍ مې سترګو ته ودرېده چې اوس به په څه حـال وي یـوه سرپرسـته یـې لرله هغه ترې هم الله جل جلاله واخیسته هغه ځای ته مې وکتل چې تیره ورځ پکې ښوونکې حسنا په وینو کې لت پت پرته وه او د عبداللـه سره یو ځای خواشینی د لیسې د دروازې څخه را ووتم.

پای

www.aghalibrary.com